مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنگروال ۲۰۲۰/۱۲/۳۰

# په هند کې د لودیانو برى او د ما تې لاملونه

## دویمه برخه

سلطان بهلول دوه مېرمني درلودې، چي یوه یې د تره لور (اسلام خان) شمسه بي بي وه چي پلار یې شمسو بلله .دویمه مېرمن یې د سرهند د یوه زرګر لور وه چي زیبا نومېده خو په بي بي ستارې يادېده .
د سلطان یو زوی چي د شمسي بي بي له نسه وه خواجه بایزید نومېده. هغه مهال چي بهلول له ډيلي نه سرهند ته لاړ، د ډيلي د سلطنت نایب یې وټاکه ،چي٠په پاى کې یې د خپل نوکر لخوا ووژل شو .
بل زوی یې اعظم همایون یاد شوی دی، چي د لودي سکندر په مهال د «لکنوتی» حکمران وه .
د سلطان بل نامتو زوی نظام خان وه چي وروسته په سلطان سکندر یاد شو. دی د بي بي ستارې زوی وه چي په ۸۵۷ هـ کال زیږېدلی دی .
د پلار د واکمنۍ په مهال له سلطان شرقي او ناتار خان سره سخته جګړه وکړه ۸۱۰ هـ کال په شاوخوا کې د سرهند او پاني پت حکمران وټاکل شو .
کله چي په ۸۹۴ هـ کال بهلول ومړ. دی د سلطان سکندر په نوم په تخت کېناست. مبارک خان د بهلول بل زوی دی چي د شمسی بي بي له نسه و. ور پسي عالم خان وه، چي په سلطان علاوالدین یادېده. شهزاده جلال خان د ده یو بل نامتو زوی وه، چي له سلطان محمود شرقي سره یې ډغرې وهلې دي.شهزاده فتح خان، جمال خان، میا محبوب خان او موسی خان د ده نور زامن دي. چي د ټولو شمېر یې ۹ تنو ته رسېده. په تاریخ کې د سلطان بهلول لودي د دوه لونو یادونه هم شوې ده، چي یوه یې د شیخ صدر جهان سرواني مېرمن وه او بله یې د شاه عبدالله قریشي .
همدارز موږ په تاریخ کي د خان جهان لودي په نوم څو نومیالي پېژنو، چي لومړی یې د سلطان بهلول لودي وزیر وه. هغه مهال چي سلطان پنجاب ته روان شو دی یې د ډیلي چارو ته وګماره .
دويم خان جهان د ده زوی وه چي اصلي نوم یې احمد خان وه. ولي کله چي خان جهان لودي ومړ (۸۸۴ هـ). سلطان، د ده زوی احمد خان ته د خان جهان لقب ورکړ او د ډيلي چارو مرستیال یې وټاکه .
موږ پدې نوم نور پیاوړي او ویاړلي هم لرو چي پخپل ځای به یې یادونه وکړو .د مخه مود سلطان سکندر یادونه وکړه، چي نوموړي د پلار له مړيني وروسته د پلار ځای ناستی وټاکل شو.د لودي سکندر (۸۹۴ – ۹۲۳) مور زیبا یا هیما نومېده چي د بي بي ستارې پنوم یادېده. دا د بهلول دویمه مېرمن وه. دغه نامتو ټولواک هندوستان ته په سیاسي، اقتصادي، نظامي او حقوقي برخو کې ډېر خدمتونه کړي دي .
تاریخ پوهان د ده دکړنو په اړه په دې اند دي، چي دی دهند له ډېرو مهمو ټولواکو څخه ګڼل کېږي .ان تر دې چي دغه پېر، د هند په تاریخ کې طلایي دوره ګڼل کېږي. د دې ټولواک په وخت کې د سنبل او اګرې ښارونه دومره ښکلي جوړ شول، چي د هند وګړي یې له ډېرو لرې ځایونو نه ننداري ته راتلل .
نوموړي که له یوې خوا د هند د بیا رغوني هغه چارې او وراني ویجاړې و رغولې، کوم چي د ګوډ تیمور له خوا دغه هیواد ته اوښتي وې .خو له بلې خوایي په ملک کې د عدل او انصاف نظام هم پلي کړ، سلطان سکندر که له نظام نه دفاع هم کوله ولي د هیواد مدني او ښونیزو ارزښتونو ته یې هم وده ورکړه .د لودي سکندر په مهال د پوځ روزل، د اګرې د ښار بنسټ، د باغیانو ځپل، په هیواد کې د امنیت ټینګښت، د بیت المال ساتنه، د هیواد د شتمنیو رغونه، د علماوو روزنه او پالنه، د شرعي اوامرو اطاعت، د خلکو عرایضو ته لاس رسی، له خپلو حکمرانانو سره د ورورګلوی سلوک، د قوم مشرانو ته درناوی، د شورا جوړول چي شمېر یې «۷۰» اویا تنو ته رسېده، د علما وو د پرېکړو درنښت، د قضایي فیصلې عملي کول، د قضایي شورا تاسیس چي له دوولس ۱۲ مفتیانو او له سترو علماوو څخه جوړه وه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په هېواد کې د مدرسو جوړول، د ادبیاتو پرمختیا او پراختیا ته پاملرنه، د اسلام له مذهب نه سربېره د نورو مذهبونو درناوی، برهمنیانو او هندوانو له مسلمانانو سره یو ځای د ملک په ابادۍ کې مساوي ونده درلوده. په هند کې د کرهنې پراختیا، د زده کړې د ښوونیز نظام پرمختیا، د زده کړې او لوست اسانتیاوې، لومړنۍ طبي ښودنې، د دودیزو علومو د ودې او پرمختګ لپاره د ښوونځیو جوړول، د ماشومانو روزنه، د هند له بېلابېلو سیمو نه د علما وو را ټولول، د کتابونو چاپول، د علمي مناظرو جوړول او د هند د ودې او پرمختګ په لاره په سلګونه نور کړه وړه یادولی شو .
همدارنګه د لودي سکندر په مهال د ښارونو جوړولو ته هم پاملرنه وشوه، بندونه او ویالې هم جوړې شوې، د پادشاهي فرمانونو اعلانول، د پوستي مرکزونو جوړول، د مالیاتو د ټولولو سیستم، د توکو نرخونو څارنه، د لاسي صنایعو وده او پرمختګ او نور د یادولو وړ دي .
د سلطان سکندر د واکمنۍ د مهال یوه ډېره مهمه پېښه د هندوستان د نوې پلازمېنې جوړول وه او په دې هیله چې د هندوستان د سهیل لوېدیځو پولو، د ټینګولو لپاره د هېواد پلازمېنه «اګره» وټاکي. نو په دې بنسټ یې د امیرانو یوه پلاوي ته دنده وسپارله چې د جمنا سین دواړه غاړې وګوري .
ګمارل شوي پلاوي همدغه ځای د اګرې د ښار لپاره وټاکه، چې بیا وروسته سلطان هم راغی او د اګرې د ښار ډېره یې په همدغه ځای کېښوده .
هماغه وه چې سلطان د هیواد نوې پلازمېنه اګره وټاکله. او پخوانۍ پلازمېنه چې د ډیلي په «سیرۍ» کلا کې وه اګرې ته ولېږدول شوه .

امیر په هندوستان کې د یوه با ثباته مرکزي حکومت د ټینګښت لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، ډېر کړاوونه یې وګالل او په بېلابېلو جګړو کې برخه واخسته چې موږ د تاتار خان جګړه، د بیانی برید، د جونپور جګړې، د بهار نیول، د بنګال جنګ، د «پټني» برید، د مندرایل جنګ، ګوالیار برید او په لسګونونور واړه واړه جنګونه د بېلګې په توګه یادولی شو .
سلطان سکندر غوښت چې د ګوالیا ریاغیان اېل کړي، ولې د هغې ناروغی له کبله چې ورپېښه شوه دا ارمان یې ترسره نشو .
هغه مهال چې نور یې خواړه له ستوني نه تېرېدل نو بیا یې د دربار ملازم را وغوښت او ورته وې ویل: «زما د قضا لمونځو او روژو کفاره وشمېره .شیخ لاوڼ حساب وکړ او بیا سلطان حکم وکړ زما له خپلې خزانې څخه... دې ورکړشي... درباریان هېښ پاتې شول، چې سلطان خزانه له کومه کړه؟ خزانه دار وویل: سلطان ته چې نورو هېوادونو سوغاتونه را لېږل ماته به یې حکم کاوه دا ګوښه ږده... د سلطان ځانته خزانه دغه خزانه ده ([1])».
سلطان د ورپېښې ناروغی له کبله په ۹۲۳ هجري کال د ۲۸ کالو پاچاهي وروسته د ۶۶ شپږشپېتو کالو په عمر په اګره کې ومړ، چې جنازه یې د هغه زوی سلطان ابراهیم ډیلي ته یوړه او په هغه ځای کې یې خاورو ته وسپاره چې اوس د نوې ډهلي د لودي هدیرې یالودي ګاردن په نوم یادېږي .
د سلطان سکندر له مړيني وروسته د هند د طلايي تاریخ کمبله ټوله شوه او په ځای سلطان ابراهیم لودي د سلطنت په تخت کېناست. لودي سکندر که څه هم شپږ زامن لرل خو د درباریانو او سردارانو په سلا لودي ابراهیم په ډیلي کې پاچا شو .
په ټوله کې او په ځانګړي ډول د هند په نیمه وچه کې د پښتنو د واکمنۍ د زوال لامل خپل مینځي اخ و ډب وه. نو دلته چې لومړۍ اړدوړ پیښ شو، هغه هم د دوه سکنیو ورونو یانې سلطان ابراهیم او شهزاده جلال خان ترمنځ وه .
د تاریخ په اوږدو کې د دا ډول لانجو تر شا ډېر ځله د درباریانو او جا ګیر دارانو لاس وه. دلته هم همداسې وشول. جلال خان د اعظم همایون زوی فتح خان خیل وزیر وټاکه او په «جونپور» کې خپلواک حکومت جوړ کړ .
ابراهیم لودي بیا د پنجاب حکمران یو نامتو جاګیردار لودي دولت خان خیل وزیر وټاکه، چې دواړو ورونو پدې ناوړه کار سره د سلطان سکندر پدې واکمنۍ د وېش دوره پیل کړه .
د لودي ابراهیم یوه لویه تېروتنه په دې کې وه چې نوموړي په ډېره بیړه او په ډېر ناوړه چلند خپل درباریان له ځانه خپه او خوابدي کړل چې سلطان پدې کار سره د خپل پلار او نیکه دود او دستور ته د پای ټکی کېښود. امیران یې دې ته اړ کړل، چې کله سلطان دربار ته را ننوځي باید دوی ټول ورته لاس په نامه ودرېږي. ټول خپلوان یې له ځانه پردي کړل، هغه پدې مانا چې سلطان قوم او خپلوان نه پېژني. حال دا چې پلار او نیکه یې له جاګیردارو، د نورو مشرانو او درباریانو سره یوځای په څمکه کېناستل او کله په دربار کې لاس په نامه سلطان ته نه درېدل .
سره د دې ټولو خبرو بیا هم یو شمېر سرداران او مشران پدې خوښ نه وه چې د هند ټولواکمني دې ووېشلی شي. پدې لړ کې خان جهان د بېلګې په توګه یادوو چې د سلطان حضور ته ورغی او د هندوستان د وېش په وړاندې ودرېد او هغه سردارن یې وګواښل چې لودي ابراهیم ته په دې اړه سلا ورکړې ده .
په سلطان ابراهیم باندې د خان جهان خبرې ډېره اغېزه وکړه، بیا یې ځو لیکونه او مخور کسان جلال خان ته ولېږل خو په نوموړي شهزاده یې کومه اغېزه ونکړه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بیا نوسلطان د بهار حکمران لوانی دریا خان، د غازي پور حکمران لوانی نصیرخان او یو شمېر نورو ته لیکونه او سوغاتونه، واستول چې د جلال خان واک او ځواک ته غاړه کېږدي .

هغه مهال چې شهزاده لدې نه خبر شو چې سلطان غواړي د «جونپور» د شاوخوا سیمو جاګیرداران او سرداران د ده په وړاندې لمسوي نو بیا یې په جونپور او یا «کالپي» کې د پاچاهۍ اعلان وکړ او ځان یې د سلطان جلال الدین په نوم یاد کړ، خطبه او سکه یې هم په خپل نوم کړه .

سلطان په ډېره بیړه د اعظم همایون په مشرۍ یو لښکر د «کالنجر» کلا د نیولو لپاره ور ولېږه. هغه وه چې شهزاده جلال خان (سلطان جلال الدین) یو لیک اعظم همایون ته ولېږه. په داسې حال کې چې د کالنجر کلا یې محاصره کړې وه، نوموړي چې لیک ولوست چې ده ته یې د تره خطاب کړی وه او بیا یې خپله بې وزلي او د سلطان زور زیاتی ور په ګوته کړی وه په اعظم همایون یې اغېزه وکړه. هغسې خو نوموړي هم له سلطان ابراهیم نه ښه زړه نه درلود او د یو شمېر نورو سردارانو په څېر دی هم ترې خوا بدی وه .نو کلا بندي یې ماته له ټول پوځ سره جلال خان ته تسلیم شو. له دغې بد مرغۍ وروسته د شهزاده ګانو او په ټوله کې د هندوستان د پښتنو تر منځ خپل منځې جګړه پیل شوه .

په ۹۲۶ هـ (۱۵۲۰ ز) کال سلطان ابراهیم د یوه لوی لښکر سره د جونپور په لور وخوځېد. کله چې اعظم همایون او زوی یې فتح خان (د ده وزیر) خبر شول دواړه بېرته سلطان ته را واوښتل او د سیمې یو شمېر نورو جاګیرداران هم د قنوج سیمې ته را ورسېدل او د لودي ابراهیم ملا یې وتړله .

سلطان جلال الدین ځان «کالپي» کلا ته ورسوه او ابراهیم لودي د لودي اعظم همایون، شروانی اعظم همایون او لوانی نصیر خان په مشرۍ د ۳۰ دېرش زره شاوخوا کې پوځ ور ولېږه .

جلال خان غوره وګڼله چې د کالپي کلا پرېږدي او په اګرې برید وکړي بیا نو ابراهیم لودي د ملک ادم خان کاکړ په مشرۍ اګرې ته یو لښکر واستوو او جلال خان ته یې وویل که چېرې د پاچاهۍ نښه له سره لرې کړې نو سلطان به تا وبښي .

شهزاده جلال دا ومنله ولې له بده مرغه سلطان ابراهیم د ملک ادم خان لیک ته کوم باور ور نکړ او شهزاده جلال خان دېته اړ شو چې «ګوالیار» راجا «راجه مان سنګ» ته پنا یوسي .

په ښکاره خو سلطان ابراهیم په دېر بري سره اګرې ته ننوت او د خپل پلار ټولواکمنې یې تر دغه دمه وژغورله. ولې بیا هم یو شمېر سرداران او واکداران یې غلي نشول په پټو او ښکاره لاسوهنو یې لاس پورې کړ .

سلطان د خپلې ټولواکمنۍ د ټینګښت لپاره یو شمېر باوري کسان په بېلابېلو سیمو کې په دنده وګمارل :

لودي دولت خان یې د ډیلي چارو ته وګماره، د سرهند حکومت یې کریمداد توخي ته وسپاره، هیبت خان یې په دوآبې کې مقرر کړ، چندیري سیمه یې شیخ محمد پرملي ته ورکړه او همداراز سلطان محمد خلجي، عیسی خان او یو شمېر نور یې په بېلابېلو دندو وټاکل .

ولې له بده مرغه چې سلطان یو شمېر منلي او مخور مشران چې د ده د پلار ډېر نږدې دوستان هم وه، نه یوازې له کاره ګوښه کړل بلکې یو شمېر یې بې عزته هم کړل لکه «میا بهوا» چې ځنځیر په غاړه یې د اګرې کوټوال ملک ادم کاکړ ته وسپاره او پس له څه وخته په هغه بند کې پسې ومړ ([1]).

سلطان ابراهیم له یوې خوا د خپل پلار او نیکه دوستان خوابدي کړل او د هغوی دودونو ته یې د پای ټکی کېښود. خو له بلې خوا د خپلې بېباکۍ له پلوه په خپل زور دومره مغرور شو، چې د ده سترګې یې ورپټې کړې وې .

سلطان د جلال خان د نیولو لپاره «ګوالیار» ته یو ستر پوځ ولېږه، نوموړی چې پوه شو له هغه ځای نه یې پښې سپکې کړې او د مالوې پاچا دویم خلجي سلطان محمود (۹۱۷ – ۹۳۷ هـ) ته پناه یووړه .

د ګوالیار د کلا بندۍ د لا سختولو لپاره نور پوځونه هم هلته ورسېدل، چې کله راجا «مان سنګ» ومړ، نو د سلطان ځواکونو هغه سپېڅلی د سرو زرو د غوا بت چې په «باول ګر» کلا کې د هندوانوعبادت لپاره اېښودل شوی و، لودي ابراهیم ته ولېږه، چې سلطان بیا دا په ډیلي کې د خپل بري د نښې په توګه د «بغداددروازې» په سر وځړاوه .

په پای کې جلال خان د سلطان ابراهیم د ځواکونو په لاس کېووت او ووژل شو . له لدې سربېره د سلطان په امر نور ډېر نږدې او منلي سرداران بند ته ټېل وهل شول، چې موږ اعظم همایون او زوی یې فتح خان د ساري په توګه یادولی شو .

د هرې ورځې په تېرېدو سره درباریانو، قومي مشرانو او د بېلابېلو سردارانو باور د سلطان په کړو وړو کمېده. دوی نه یوازې غلي پاتې نشول بلکې د سلطان په وړاندې را پاڅېدل او په اړدوړ یې لاس پورې کړ. ډېرې دا جګړې خپل منځې وې، دواړو لورو ته پښتانه وژل کېدل. که له یوې خوا پښتانه یو د بل په وړاندې جنګېدل، خو له بلې خوا د افغانانو ستر دښمن بابر دغه پېښې څارلې او ان تر دې چې د سلطان باوري دوست اسلام خان د اعظم همایون زوی سره په جګړه کې لس زره پښتانه ځوانان ووژل شول او اسلام خان هم همدلته مړ شو .

که څه هم بابر په پرلپسې توګه د هند د نیولو هڅې وکړې، ولې هر برید یې له ماتې سره مل وه. خو بیا هم نهیلی نه وه، دا ځکه چې سلطان ابراهیم د هرې ورځې په تېرېدو خپلې متې رېبلې .د اعظم همایون او د هغه د زوی وژنه، د میا حسین له مینځه وړل او د لودي دولت خان پاڅېدل دا ټول هغه څه وه چې بابر ته یې د بري چانس په لاس ورکړ .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لودي دولت خان د سلطان ابراهيم ډېر نږدې وزير، پدې پوه شو چې د سلطان بېباکۍ ټول ملک نا ارامه کړی دی .نو پرېکړه يې وکړه چې د پښتنو ميراثي دښمن بابر ته بلنه ورکړي چې په هند بريد وکړي .
د سلطان تره، سلطان علاوالدين د دربار نږدې وزير او تربور لودي دولت خان، د لودي ابراهيم ملا ماته کړه .
د دولت خان لودي په لومړي او دويم جنګ (۹۳۱ هـ) کې دومره مېړني له دواړو لورو نه مړه شول چې څوک يې په ښخېدو نه رسيدل. د سلطان د پوځونو او د علاوالدين د لښکر تر مينځ هم د ډيلي په جګړه کې ډېر پښتانه ځوانان مړه شول. د بابر په پنځم بريد کې (۹۳۲ هـ) هم ډېر مېړني پښتانه تر خاورو لاندې شول .
له يوې خوا د پښتنو سردارانو خپل مينځي جګړې او له بلې خوا د بابر پرلپسې بريدونو، د دې زمينه برابره کړه چې په پای کې بابر د پاني پټ په جګړه (۹۳۲ هـ) کې د پنځلس زرو پوځونو په مټ په داسې حال کې چې سلطان ابراهيم د سل زرو په شاوخوا کې پوځيان لرل برى ترلاسه کړ .
د دې بري لاملونه دا وو چې د سلطان ابراهيم پوځونه د څومره والي او څرنګوالي له مخې د پرتلې وړ نه وه. له يوې خوا د پوځونو بې باوري، سترېا، نايوالی، نامنظم توب او له بلې خوا د بابر د ځواکونو نظم، د لوړ مورال درلودل او نور داسې څه چې د جګړې اصول وه او پخپله د بابر لارښوونې... دا ټول هغه څه وه چې د سلطان ابراهيم په ګډون د شپږ زره په شاوخوا کې پښتانه د جنګ په ډګر کې مړه شول او بابر يو تاريخي برى ترلاسه کړ .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ